

قبر کی پہلی رات (پشتو)

# دقبر وړومبۍ شپه


شیخِ طریقت، اَمیرِ اَہلِسنّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښي دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَالله څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا !

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخِر کښې يو يو ځل دُرود شريف ولولئ)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

د رسالې نوم: د قبر وړومبۍ شپه

اول ځل: ......................

تعداد: ....................

مکتبةُ المَدينه، عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته**

کتاب اخستونکي توجّه اوکړې

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع وکړئ.

# د قبر وړومبۍ شپه

د شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرتِ عَلّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د بیان "**قبر کی پہلی رات**" دا رِساله په اردو ژبه کښې وه.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غَلَطي یا کمے، زیاتے اوموموئ نو ستاسو په خِدمت کښې عرض دے چې مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالَمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، بابُ المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قبر وړومبۍ شپه[1]

شيطان كله هم دا نه غواړي چه تاسو دا رِساله پوره ولولئ او د قبر د وړومبۍ شپې د تيارۍ ذِهن مو جوړ شي، د شيطان وار ناكامه كړئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د اِمامُ الْاَنبياء حضرتِ مُحَمَّد مُصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: په ما باندې دُرُودِ پاك لوستل په پُلِ صراط باندې نُور دے، څوك چې د جُمعے په ورځ په ما باندې اتيا ځله دُرُودِ پاك اولولي د هغه د اتياؤ كالو ګناهونه به مُعاف شي. (الجامع الصغير للسُّيُوطي ص۳۲۰ حديث۵۱۹۱ دارُالْكُتُبِ الْعِلْمِيه بيروت)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

كوئى گل باقى رہے گا نہ چمن رہ جائيگا
پر رسولُ اللہ كا دينِ حَسَن رہ جائيگا

ہم صفير و باغ ميں ہے كوئى دم كا چہچہا
بُلبليں اُڑ جائيں گى سُونا چمن رہ جائيگا

اَطلَس كمخوا ب كى پُوشاك پر نازاں نہ ہو
اِس تنِ بے جان پر خاكى كفن رہ جائيگا

نه به څه ګُل نه به چمن پاتې شي
خو د رسولِ پاك به دِينِ حَسَن پاتې شي

اوس د مرغو دې آوازونه باغ كښې
كه بُلبُلان نه وي شړ به چمن پاتې شي

---

1 دا بيان امِيرِ اَهلِسُنّت (دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه) د دعوتِ اِسلامي د درې ورځو د سُنّتو نه ډكه اِجتماع (صحرائے مدينه بابُ المَدينه كراچۍ) كښې په ۲۷ ربيعُ الاوّل ۱۴۳۱ھ (2010 .3 .14ء) د اتوار په ورځ فرمائيلے وو. د ضروري ترميم سره د ليك په صورت كښې حاضر دې. مجلِس مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه

ته مه نازیږه د کمخواب په بِستر　　یو ورځ په تن به دِ صِرف کفن پاتې شي

جلیلُ القدر تابِعي بزرګ حضرتِ سَیِّدُنا حسن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه د خپل کور مخې ته ناست وو چې په هغه ځائے یوه جنازه تیره شوه، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه هُم پاڅیدلو او جنازے پسې وروستو روان شو. جنازے نه لاندې یوه وړه ماشومه روانه په چغو چغو ژاړي او هغې دا وئیل: **اے باباجانه!** نن په ما هغه وخت راغے چې مخکښې راباندې کله هُم نه وو راغلے. حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه چې کله دا د غم نه ډك آواز واوریدلو نو زړه ئې بےقراره شو او د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوې، او د هغه یتیمې غمژنې ماشومې په سر ئې د شَفقت [یعني مهربانۍ] لاس راښکلو او اوئې فرمائیل چې: بچۍ! په تا نه بلکه ستا په مرحوم باباجان هغه وخت راغلے دے چې مخکښې پرې کله هُم نه وو راغلے. صبا له هغوئي هغه ماشومه اولیدله چې ادیرې [یعني مُقبرے] طرف ته روانه ده او اوښکے ئې بهیږي. حضرتِ سَیِّدُنا حسن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه هُم د عبرت حاصلولو د پاره په هغې پسې شا ته روان شولو. هغه ماشومه چې ادیرې [یعني قبرستان] ته اورسیدله نو د خپل مرحوم پلار په قبر پریوتله. حضرتِ سَیِّدُنا **حَسَن** بصری رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د بوټو د جاخو شا ته پټ شو. ماشومې خپل مخ په خاورو کینښودو او په ژړا ژړا ئې وئیل: **اے بابا جانه!** تاسو به په تِیاره کښې د ډیوے او خِدمتګار نه بغیر د **قَبْر وړومبۍ** شپه څنګه تیره کړي وي؟ **اے بابا جانه!** پرون شپه خو تاسو ته ما **ډیوه** بله کړي وه، نن شپه به درته په **قَبْر** کښې چا ډِیوه بله کړي وي؟ **اے بابا جانه!** پرون شپه په کور کښې ستا د پاره بستره ما خوره کړي وه، نن شپه به درته په **قَبْر** کښې چا بستره **خوره** کړي وي! **اے بابا جانه!** پرون شپه په کور

کښې ما تاسو له **لاس او ښپے** زور کړي وو، نن شپه به په **قَبْر** کښې تاسو له لاس او ښپے چا زور کړي وي! **اے بابا جانه!** پرون شپه په کور کښې ما په تاسو **اوبه** څښلي وے نن شپه چې په **قَبْر** کښې تاسو تږي شوي ئې او اوبه مو غوښتي وي نو چا به اوبه درکړي وي! **اے بابا جانه!** پرون شپه خو په تاسو ما څادر خور کړے وو نن شپه به دربانديې چا څادر خور کړے وي؟ **اے بابا جانه!** پرون شپه په کور کښې ما ستاسو د مخ نه خوَلے اوچې کړي وے نن شپه به درله په **قَبْر** کښې چا اوچې کړي وي؟ **اے بابا جانه!** د پرونۍ شپے پورې به چې کله تاسو زه رابلَلم نو زه به راتلمه، نن شپه به په **قَبْر** کښې تاسو څوك رابللے وي او ستاسو په غږ به څوك راغلے وي؟ **اے بابا جانه!** پرون شپه چې تاسو اوږي شوي وئ نو ما درته خوراك درکړے وو، **نن شپه** چې به تاسو په **قَبْر** کښې اوږي شوي ئې نو خوراك به چا درکړے وي؟ **اے بابا جانه!** د پرونۍ شپے پورې خو به ما ستاسو د پاره قِسما قِسم **خوراکونه** پخول **نن د قَبْر په وړومبۍ شپه** به درله چا پوخ کړے وي!

حضرتِ سَیِّدُنا **حَسَن** بصری رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د هغه غمژنې او درد مَندې ماشومې د درد نه ډکې خبرې واوریدلې نو په ژړا شو او نِزدې ورغلو او ورته ئې اوفرمائیل: اے لُورې! داسې نه بلکه داسې اووایه چې: **اے بابا جانه!** د خخولو په وخت کښې خلقو ستاسو مخ **قبلے** ته اړولے وو، آیا تاسو اوس هم په هغه حال ئې یا مو مخ بل طرف ته اَوُوښتے دے؟ **اے بابا جانه!** تاسو ته د خخیدو نه **مخکښې** صفا سُتره کفن اغوستے شوے وو، آیا اوس هم هغه صفا سُتره دے؟ **اے بابا جانه!** تاسو په **قَبْر** کښې د صحیح او سلامت بدن سره خخ کړے شوي

وئ، آیا اوس هم ستاسو بدن سلامت دے یا **چینجو** خوړلے دے؟ **اے بابا جانه!** عُلماء فرمائي چې د **قَبْر په ورومبۍ شپه** د بنده نه د ایمان په باره کښې تپوس کیږي نو څوك جواب ورکړي او څوك نااُمِّیده پاتې شي نو آیا تاسو د دې سوال صحیح جواب ورکړے دے یا ناکامه پاتې شوي ئې؟ **اے بابا جانه!** عُلماء فرمائي چې د بعضو مړو د پاره **قَبْر** فراخه شي او د بعضو د پاره تنګ کړے شي نو ستاسو د پاره **قبر** تنګ شوے دے که فراخه شوے دے؟ **اے بابا جانه!** عُلماء فرمائي چې د بعضې مړي کفن په جَنَّتی کفن کښې بدل کړے شي او د چا کفن د جَهَنَّم د اور په کفن کښې بدل کړے شي نو ستاسو کفن د اور په کفن کښې بدل شوے دے که په جَنَّتی کفن کښې بدل شوے دے؟ **اے بابا جانه!** عُلماء فرمائي چې **قَبْر** بعضې خلق داسې [په آسانه] زور کوي څنګه چې مور خپل ورك شوے ماشوم په موندلو د ډیرې مِینې نه خپلې سینے سره راجوخت کړي او چا ته چې په غضب شي نو هغه له دومره زور ورکوي چې د هغه پوښتۍ ماتې شي او په یو بل کښې ننوځي نو آیا قبر تاسو د مور په شان په نرمۍ زور کړئ او که نه پوښتۍ ئې درله ټوټے ټوټے کړي دي؟ **اے بابا جانه!** عُلماء فرمائي: مړے چې کله **قبر** ته کوز کړے شي نو په دواړو صورتونو کښې هغه پښیمانه وي، که هغه نیك بنده وي نو په دې خبره پښیمانه وي چې هغه **زیاتې** نیکۍ ولې نه دي کړي، او که ګنهګار وي نو په دې وجه به پښیمانه وي چې ګناهونه ئې ولې کړي دي! نو **اے بابا جانه!** تاسو د نیکو په کمۍ پښیمانه شوي ئې که د ګناهونو په زیات والي؟ **اے بابا جانه!** پرون به چې ما تاسو ته غږ اوکړو نو تاسو به ما ته جواب راکولو، نن زه څومره بدنصیبه یم چې ستاسو د

قَبْر سر ته ولاړه يم او نعرے وَهَم خو زه ستاسو د جواب آواز نه اورم! **اے بابا جانه!** تاسو خو زما نه داسي جُدا شوئ چي تر قِيامته پورې درسره بيا ملاقات نه شم كولے. اے خدائے رحمٰن عَزَّوَجَلَّ! د قِيامت په ميدان كښي ما د خپل **بابا جان** د مُلاقات نه مه محرومه كوے.

چې د **حضرتِ** سَيِّدُنا **حَسَن** بصرى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا خبرې ئې واوريدلې نو هغه ماشومې عرض اوكړو چې: اے زما سرداره! ستاسو د نصيحت نه ډكو خبرو زه د غفلت نه بيداره كړم. د هغې نه پس هغه په ژړا ژړا د حضرتِ سَيِّدُنا **حَسَن** بصرى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره يو ځائے بيرته راروانه شوه. (المواعظ العصفورية لابى بكر بن مَحمّد العصفورى، مترجم ص ۱۱۸ بتصرف مَكْتَبَه اعلٰى حضرت)

آنکھیں رو رو کے سُوجانے والے
جانے والے نہیں آنے والے

کوئی دن میں یہ سرا اُوجڑ ہے
ارے او چھاؤنی چھانے والے

نفس! میں خاک ہوا تو نہ مٹا
ہے! مری جان کے کھانے والے

ساتھ لے لو مجھے میں مُجرِم ہوں
راہ میں پڑتے ہیں تھانے والے

ہو گیا دَھک سے کلیجہ میرا
ہائے رُخصت کی سنانے والے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قبرونه په ظاهره يو شان خو دننه ...

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! كله خو به تاسو اديرے [يعني مُقبرے] ته تلي ئې. آيا تاسو كله غور كړے دے چې د **مُقبرے** خفه ماحول، د غم نه ډكې هواګانې لكه د هغې دا حالت چې دا اِعلان كوي: چې اے په دُنياوى ژوند

باندې خوشحاله اوسیدونکو! تاسو ټول به یوه نه یوه ورځ دې شړې ته د **قَبُر** جوړې کندې ته راځئ، یاد ساتئ! دا قبرونه چې د پاسه نه یو شان ښکاري، ضروري نه ده چې د دې دننه حالت دِ هُم یو شان وي، آو جي که د دې خاورو نه لاندې خخ شوے [کس] **لـمونځ ګزاره** وو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژے نیولو والا وو، د پوره میاشتې اِعتِکاف یا کم از کم د آخِري عشرے **اِعتِکاف** کولو والا وو، د **رَمَضان** د **میاشتې** عاشِق او قدردان وو، د فرض کیدو په صورت کښې به ئې خپل **زکوٰة** پوره ادا کولو، حلال رِزق ګټلو والا وو، د ضرورت مطابق په حلاله روزۍ باندې قَناعت کوونکے وو، د **قرآنِ مجید** تِلاوَت به ئې کولو، د تَهَجُّد، اِشراق او چاشت او اَوَّابین نفلونه به ئې ادا کول، **عاجِزی** به ئې کوله، خوش اَخلاقه وو، د شریعت مطابِق ئې یو موټے **ږیره** پرېښودې وه، د **عِمامے** شریفې تاج به ئې په سر کولو، د **سُنَّتو** عاشق وو، د مور و پلار فرمانبرداري به ئې کوله، د بندګانو حقونه به ئې ادا کول، د **الله** پاک او د هغه د **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره **محبَّت** کولو والا وو، د صحابۀ کرامو او اَهلِ بَیتِ عظام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم عاشِق وو، نو د هغه کس **قَبُر**، چې د پاسه نه د خاورو یو وړوکے شان ډیرے ښکاري، کیدے شي چې د اللّٰه و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فضل و کرم د هغې دننه حِصّه چې د کوم ځائے پورې نظر رسي د هُغه حده پورې فراخه شوی وي، په **قَبُر** کښې ئې د جَنَّت کړکۍ بیرته شوي وي، او په ظاهره د خاورو د دې ډیري لاندې د **جَنَّت** ښکُلے او ښائسته باغ موجود وي. بل طرف ته د دې خاورو د ډیري لاندې خخ شوے کس که **بیلمانځه** وو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژے قصداً خوړلو والا وو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په شپو کښې په کوڅو کښې د کرکټ وغیره لوبو کولو په ذریعه د مُسلمانانو په عِبادتونو او خوبونو کښې خلل راوستلو والا وو، یا د دې لوبو تماشائي او د هغوئي حوصله

افزائي والا وو، د فرض کيدو باوُجود د **زکوٰة** په ادا کولو کښې **بُخل** کولو والا وو، **حرام رزق** کټلو والا وو، د **سود** او **رِشوت** لين دَين کولو والا وو، د خلقو **قرضے** خوړلو والا وو، **شرابي** وو، **جواري** وو، د شرابو او د جوارئ اډے چلولو والا وو، د مُسلمانانو بے اِجازتِ شرعي زړه **ازارَوَلو** والاوو، مسلمانانو باندې به ئې رُعب او دَباؤ اچولو او بهتّه [يعني مال دولت] به ئې ترينه اخستلو، د روپو د مطالبے د پاره به ئې مسلمانان **اغوا کول، غلاګاني** به ئې کولې، ډاکے به ئې وهلې، په اَمانت کښې به ئې **خِيانت** کولو، په زمکو به ئې ناجائزه قبضے کولې، په بے وَسه زميندارو به ئې ظُلم کولو، د اِقتِدار [يعني د حکومت يا افسرئ] په نشه کښې مست د ظُلم او زياتي کولو والا وو، کيره خرئيلو والا يا د يو موتې نه وړولو والا وو، فِلمونه او ډرامے پخپله او په نورو کتلو والا وو، سندرے او باجے پخپله او په نورو اوريدو والا وو، د کنزلو، دروغو، **غِيبَت، چُغلئ**، تُهمَت، بدګمانئ او د تَکَبُّر عادت لرونکے وو، د مور و پلار نافرمانه وو، نو کيدے شي چې د خاورو د دې ډيرې نه لاندې هغه بے قراره وي، د دوزخ کړکئ ورته بيرته کړے شوي وي، په اور سوزي، **ماران** او **لړمان** ئې د بدن نه راتاؤ شوي وي او داسې چغې او سُورې وهي چې هغه مونږه نه شو اوريدلے.

اعلىٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي:

ہائے غافِل وہ کیا جگہ ہے جہاں
پانچ جاتے ہیں چار پھرتے ہیں

بائیں رستے نہ جا مسافِرسُن
مال ہے راہ مار پھرتے ہیں

جاگ سُنسان بن ہے رات آئی
گُرگ بہرِ شکار پھرتے ہیں

نفس یہ کوئی چال ہے ظالم
جیسے خاصے بِجار پھرتے ہیں

د اشعارو ترجمه :

هائے غافِله هغه څنګه ځائے دے لا ړ شي پينځه خلور كسان ګرځي

(يعني قبر ته يو مړے او خلور جنازه وړلو والا ځي او بيرته ترينه خلور راځي)

اے مسافره په غلط لار مه ځه تاسره مال دے شُوك ماران ګرځي

(يعني اِيمان او نيكئ درسره دى، او نفس او شيطان شوك ماران دي)

شړو كښې ګرځې دا ده شپه راغلله په ښكار پسے ډير شرمَـخان ګرځي

(يعني ته په غفلت كښې ګرځې او مرګ دِ راغے، او نفس او شيطان درپسے دي)

نفسه دا څه دِ اوكړو اے ظالِمَه لكه چې ډير مې دُښمنان ګرځي

(اے نفسه ډير ظُلم راسره كوے، يعني د نورو دُښمنانو په شان مې يو دُښمن ته هم ئې)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يوه ورځ آخِر مرګ دے

اے **عاشقانِ رسُول**! د دې مقبرو دې شړوالې ته اوګورئ او غور اوكړئ چې آيا په مونږه كښې څوك په ژونديني په مقبره كښې يوه شپه يواځې تيرولے شي؟ شايد چې څوك به هم هِمَّت ونه كړي، نو چې په ژونديني د يواځې اوسيدو نه يريږو نو د مرګ نه پس چې ټول دوستان او ټول خپلوان او عزيزان را نه پاتې شي، عقل به مو سلامت وي، هر څه به وِينو او اَورُو خو څه حركت او خبرې به نه شو كولے، په داسې وار خطا كوونكي حالاتو كښې به د قَبْر په تِيارو كښې يواځې څنګه اوسيږو! آه! زمونږه

حال خو دا دے چې که د سهولتونو نه ډکې بنګلې د ائیر کنډیشنډ والا بنګله کښې یواځې قید کړے شو نو هُم یَریږو!

اندھیری رات ہے غم کی گھٹا عصیاں کی کالی ہے
دلِ بے کس کا اِس آفت میں آقا تُو ہی والی ہے
اُترتے چاند ڈھلتی چاندنی جو ہو سکے کر لے
اندھیرا پاکھ آتا ہے یہ دو دن کی اُجالی ہے
اندھیرا گھر، اکیلی جان، دَم گھٹتا، دل اُکتاتا
خدا کو یاد کر پیارے وہ ساعت آنے والی ہے
نہ چونکا دن ہے ڈھلنے پر تری منزل ہوئی کھوٹی
ارے او جانے والے نیند یہ کب کی نکالی ہے

رضاؔ منزل تو جیسی ہے وہ اِک میں کیا سبھی کو ہے
تم اس کو روتے ہو یہ تو کہو یاں ہاتھ خالی ہے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! یقین اوکړئ! چې په مقبره کښې د خخو خلقو حالت نن مونږ ته دا نصیحت راکوي: چې "اے غافِلو انسانانو! یاد ساتئ! پرون مونږه هم هلته (یعني په دُنیا کښې) وو کوم ځائے چې نن تاسو ئې او صبا به تاسو هم دلته (یعني قبر ته) راځئ کوم ځائے چې نن مونږه یو." یقیناً څوك چې په دُنیا کښې پیدا شو هغه به ضرور مري، چا ته چې د ژوند ګلونه ورکړے شُو، هغه د مرګ ازغو ضرور زخمي کړو، چا ته چې د خوشحالو خزانه ورکړے شُوه هغه ته د مرګ غم هم ضرور ورکړے شُو!

## مونږه دُنیا ته په ترتیب راغلي یُو خو ....

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږه دې دُنیا ته په یو ترتیب ضرور راغلي یُو یعني داسې چې اوّل نیکه بیا پلار بیا ځوئ بیا نمسے خو د مرګ ترتیب ضروري نه دے، بوډا نیکه ژوندے وي خو د پئیو ماشوم نَمسے ئې

مړ شي، د چا نيکه ژوندے وي او مور ئې د دُنيا نه لاړه شي، په مونږ کښې به د چا د کور نه د هغه د وړور جنازه اوچته شوي وي، د چا مور به د هغه په مخکښې ساه ورکړې وي، د چا به پلار وفات شوے وي، د چا به د ځلمي ځوئ حادثه شوي وي او د مرګ غيږې ته به رسيدلے وي، د چا نياګانې [يعني د پلار مور او د مور مور] به د دُنيا نه تلې وي، د خپل وفات شوو خپلوانو په شان به يوه ورځ مونږه هم ناڅاپه دا دُنيا پريږدو.

دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے
بَغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

تِرا نازُک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر
یہ ہوگا ایک دن بے جاں اِسے کِرموں نے کھانا ہے

تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اِینٹوں کا سِرہانا ہے

نہ بَیلی ہو سکے بھائی نہ بیٹا باپ تے مائی
تُو کیوں پھرتا ہے سَودائی عمل نے کام آنا ہے

کہاں ہے زورِ نَمرودی! کہاں ہے تختِ فِرعونی!
گئے سب چھوڑ یہ فانی اگر نادان دانا ہے

عزیزا یاد کر جس دن کہ عِزرائیل آئیں گے
نہ جاوے کوئی تیرے سَنگ اکیلا تُو نے جانا ہے

جہاں کے شُغل میں شاغِل خدا کے ذِکر سے غافِل
کرے دعوٰی کہ یہ دنیا مِرا دائم ٹِھکانہ ہے

غُلام اِک دَم نہ کر غفلت حیاتی پر نہ ہو غُرّہ
خدا کی یاد کر ہر دم کہ جس نے کام آنا ہے

د شعرونو ترجَمه: (۱) اے زړه ! مه غافله کيږه دا دُنيا پاتې کيدونکي ده د دنيا باغونه به درنه پاتې شي او يو ځل به په زمکه کښې خخ کړے شې.

(۲) اے وروه! ستا دا نازك بدن چې نن په ګلونو خوبونه کوي، يوه ورځ به د دې نه ساه اُوځي او د چينجو خوراك به شي.

(۳) ته خپل مرګ مه هيروه او د تللو تياري کوه، د زمکې په خاورو به اوده ئې او سر به دِ د خاورو په بالښت وي.

(٤) مور او پلار او ورونړه به دِ هيڅ مدد اُونه کړے شي، ته ولې سودائي ګرځې عمل به دِ په کار راځي.

(٥) څه شو د نمرود زور او څه شو د فِرعون تخت، که څوك پوهه دے او که ناپوهه، د ټولو نه دا دُنيا پاتې ده.

(٦) اے وروره! چې په کومه ورځ عِزرائيل (عَلَيْهِ السَّلَام) تشريف راوړي نو ستا سره به بل هيڅ څوك نه ځي ته به يواځې ځے.

(٧) د دُنيا په کارونو کښې مشغوله او د الله د ذِکر نه غافله ، ته دا دعوىٰ لرې چې زه به هميشه په دې دُنيا کښې اوسيږم.

(٨) اے غلامه! لږ هم مه غافِله کيږه او په ژوند باندې مه نازيږه، هر وخت الله يادوه هم دا به دِ په کار راځي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مخکښې به مو داسې يوه شپه هم نه وي تيره کړې

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ارشاد فرمائي: آيا زه تاسو ته د هغه دوو ورځو او دوو شپو په باره کښې خبر درنه کړم! (١) يوه ورځ هُغه ده چې د الله پاك له طرفه يو راتلونکے به تا ته د الله پاك د خوشحالئ زيرے راوړي يا به د هغه د ناراضئ خبر [راوړي] او (٢) دويمه ورځ هُغه ده چې کله به ته د خپلې **اعمال نامې** اخستلو د پاره د الله پاك په بارګاه کښې حاضِريږې او هغه اعمال نامه به ستا په ښي لاس کښې درکړې شي يا په ګڅ لاس کښې. (او په دوو شپو کښې) (١) يوه شپه هُغه چې مړے به ئې په خپل قبر کښې تيروې چې د دې نه مخکښې هغه کله هم داسې

شپه نه وي تيره کړي. او (۲) دويمه شپه هٔغه چې د هغې په سحر به د قِيامَت ورځ وي او بيا به د هغې نه پس يوه شپه هم نه راځي.
(شُعَبُ الایمان ج۷ ص ۳۸۸ حديث ۱۰۶۹۷ دارُالکُتُبِ العِلْمِية بيروت)

## د اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه وَصِيَّت

اے د نن ژوندو او د صبا مړو، اے فنا کيدونکو، اے کمزورو، اے بے وَسو، اے ضعيفو، اے ماشومانو، اے ځوانانو، اے بوډاګانو! يقيناً **د قبر ورومبۍ شپه** ډيره اَهَمه شپه ده، اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې پخپله ډير لوئي ولِیُّ‌اللّٰه او زبردست عاشقِ رسول وو، هغوئي دا **وَصِيَّت** فرمائيلے وو چې: (د خخولو او تلقين کولو نه پس) يوه نيمه ګينټه زما (د قَبْر) مخې طرف ته دُرُود شريف په داسې آواز کښې لولئ چې زه ئې اورم. بيا ما اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْن (عَزَّوَجَلَّ) ته اوسپارئ او بيرته ځئ او که تکليف برداشت کولے شئ نو درې شپې او ورځې په څوکۍ کښې دوه عزيزان [يعني د کور کسان] يا دوستان په مواجهه کښې [يعني د قبر مخې طرف ته] قرآن شريف او دُرُود شريف په داسې آواز بے وقفه [يعني مسلسل] لوَلئ [چې زه ئې اورم] که اللّٰه پاک ته منظوره وي نو په نوي کور کښې به مې زړه اُولګي. (حياتِ اعلٰی حضرت حِصّه سوم ص ۲۹۱ مکتبة المَدينه بابُ المَدينه کراچي)

## د سګِ مدينه (عُفِيَ عَنْهُ) وَصِيَّت

اَلْحَمْدُلِلّٰه د اعلٰی حضرت په تابعدارۍ کښې سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ هم دغسې وصِيّت کړے دے چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتی اِدارے مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه

چاپ شوي د 436 صفحو كِتاب "رسائلِ عطاریہ" كښې په رساله "مَدَنی وَصِيَّت نامه" صفحه 394 كښې دي: "كه كيدے شي نو زما سره مَحَبَّت كوونكي دِ زما د خخولو نه پس د دولسو ورځو پورې، او كه دا نه شي كيدے نو كم نه كم د دولسو ګينټو پورې زما د قبر نه چاپيره حلقه جوړه كړئ او په ذِكر و دُرُود او تلاوت او نعت زما زړه ډاډه كوئ، اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ په نوي ځائے كښې به مې زړه ولګي، په دې دوران كښې هم او هميشه د جَمعې د لـمانځه اهتمام كوئ."

## د خوږ آقا ﷺ ژړا

زمونږه خوږ خوږ مَدَنی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قبر په باره كښې د الله پاک ډيره زياته ويره لرله. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا بَراء اِبنِ عازِب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې مونږه د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په يوه **جنازه** كښې شريك وو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر په غاړه كښيناستلو او **دومره ئې اُوژړل چې خاوره‌لمده شوه.** بيا ئې اوفرمائيل: د دې د پاره تيّارې اوكړئ.

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج ٤ ص ٤٦٦ حديث ٤١٩٥ دارُ الْمَعرِفة بيروت)

سويا كئے نابَكار بندے  روِيا كئے زار زار آقا

**د شعر ترجَمه:** بيكاره بندګان خوبونه كوي، او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به [د خپل اُمَّت په غم كښې] ډير ډير ژړل.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آخِرت ورومبے منزِل قَبر دے

اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غَنی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به چې کله د چا د قَبر خوا ته تشریف یوړو نو دومره به ئې اُوژړل چې ګیره مبارَکه به ئې لمده شوه. چا ورته عرض اوکړو چې د جَنَّت او د دوزخ تذکِره کولو په وخت کښې تاسو نه ژاړئ خو د قَبر خوا ته ډیر ژاړئ د دې څه وجه ده؟ اُوئې فرمائیل: ما د سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي: چې د آخِرت د ټولو نه ورومبے منزل قَبر دے، که قَبر والا د دې نه خلاصے اوموندو نو وروسته مُعامَله د دې نه آسانه ده او که د دې نه ئې خلاصے اُونه موندو نو وروسته مُعامَله زیاته سخته ده.

(سُنَن اِبنِ ماجه ج٤ص٥٠٠ حدیث ٤٢٦٧ دارُ الْمَعرِفة بیروت)

## جنازه خاموشه نصیحت کوونکي ده

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو د حضرتِ سَیِّدُنا عُثمان اِبنِ عفّان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خوفِ خُدا اُولیدو! هغوئې رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په عشرۂ مُبَشَّرہ یعني په هغه لسو خوش نصیبو صحابۂ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کښې وو چا ته چې خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپله مبارکه ژبه خُصوصي طور د جَنَّتي کیدو زیرے ورکړے وو، د هغوئې نه به معصومو فرښتو حیا کوله. د هغې باوُجود به هغوئې د قبر د خوفناکي او ویروونکي تنهائي او تیارو په باره کښې ډیر زیات په ویره کښې اوسیدلو او یو مونږه یو چې خپل قبر مو بالکل هیر کړے دے، هره ورځ د خلقو د جنازو د لیدلو باوُجود دا سوچ

نه کوو چې یوه ورځ به زمونږه جنازه هم اوچته شي، یقیناً دا جنازے زمونږه د پاره د **خاموشه مُبَلِّغ** حیثِیَّت لري. د هغوئي حالت چې څه وائي هغه چا داسې نظم کړي دي:

جنازہ آگے آگے کہہ رہا ہے اے جہاں والو
مِرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنما میں ہوں

جنازه مخکښې ده روانه وائي اے دُنیا والؤ
زه لار ښودونکے یمه ستاسو، ما پسې وروستو راځۍ

## د قبر خوناکې تِیارې

اے **عاشقانِ رسُول**! افسوس په کروړونو افسوس! مونږه په خپلو سترګو وینو چې هره ورځ مرې خخیږي خو دا رانه هیر وي چې مونږه به هم یوه ورځ قبر ته کوز کړے شُو. آه! زمونږه حالت خو دا دے چې که د شپے بجلي لاړه شي نو هم یَریږو خصوصاً چې یواځې یُو نو د تِیارو نه ډیر زیات یریږو، خو هائے هائے! د دې باوُجود د قبر د خوفناکې تکې تورې تِیارے هیڅ اِحساس نه لرو. لمونځونه مونږ نه کوو. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژے نه نِیسو، د فرض کیدو باوُجود زکوٰة پوره نه ادا کوو، د مور و پلار حُقُوق نه ادا کوو، آه! **شپې او ورځې** مو په ګناهونو کښې تیریږي، یقیناً د **مرګ** یو وخت مُقَرَّر دے د دې نه بچ کیدل ممکن نه دي، که دغسې په ګناهونو کولو کښې مو ناڅاپه **مرګ** راغے او د قبر کندې ته کُوز کړے شو نو معلومه نه ده چې زمونږه **د قبر وړومبۍ شپه** به څنګه تیریږي!

| | |
|---|---|
| یاد رکھ ہر آن آخِر موت ہے | بن تُو مت اَنجان آخِر موت ہے |
| مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی | عاقِل و نادان آخِر موت ہے |
| کیا خوشی ہو دل کو چَندے زِیست سے | غمزَدہ ہے جان آخِر موت ہے |
| مُلک فانی میں فنا ہر شَے کو ہے | سُن لگا کر کان آخِر موت ہے |

بارہا عِلمی تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخِر موت ہے

| | |
|---|---|
| هر وخت یاد ساته چي آخِر مرګ دے | مه جوړیږه بے پروا آخِر مرګ دے |
| مري ورځ او شپه په زرګاؤ انسانان | عقلمند او هُم نادان آخِر مرګ دے |
| څه به شُو خوشحاله په دي لږ ژوند | زړه مي دے خفه آخِر مرګ دے |
| هر شے به فنا شي د فاني دُنیا | ډیر په غور واوره آخِر مرګ دے |
| څو ځله مي پوهه کړي ته اے عِلمیؔ | که منے او که نه آخِر مرګ دے |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عالیشانه بنګلے عبرتناکه واقعه

**انسان** ډیرې اوګرډې اوګرډې منصوبے جوړوي خو د هغه دې خبرې ته هډو توَجُّه نه وي چي واګي ئې د بل په لاس کښې دي، چي ناڅاپه واګي راښکلے شي او مړ شي نو هر څه ترینه ګډ وَډ پاتې شي چنانچه وائي چي: د ''مُلتان''یو ځلمے د مال ګټلو په شوق کښې د خپل وطن، ښار او خاندان وغیره نه لري یو بل مُلك ته لاړو. ښه مال ئې ګټلو او کور ته به ئې رالیږلو، په خپل مینځ کښې ئې په مشوره د یوې **عالیشانه** بنګلے جوړولو فیصله اوکړه. هغه ځلمي د ډیرو کلونو پورې مال رالیږلو، د کور کسانو ښه ښکلې بنګله جوړوله، تر دې چي عظیمُ الشّانه بنګله تیاره شوه.

دا ځلمے چې کله وطن ته بیرته راغلو نو هغه عظیمُ الشّانه بنګله کښې د اوسیدو تیارئ په آخِري مرحلو کښې وے! خو آه! د تقدیر فیصلے ته اوګورئ چې هُغه عالیشانه بنګلے ته د کور [سامان] وړلو نه یوه هفته مخکښې هغه ځلمے **وفات** شو او هغه د رنړاګانو ځلیدونکي عالیشانه بنګلے په ځائے د تِیارو نه ډک قبر ته لاړو-

جہاں میں ہیں عِبرت کے ہر سُو نمُونے
مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے
جو آباد تھے وہ مکاں اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے
یہ عِبرت کی جا ہے تَماشا نہیں ہے

په دُنیا کښې هر طرف ته نمونے دي د عبرت
خو ستا سترګي پټې کړي تماشو او ډیر دولت
کله تا هم غور کړے په دي باندې
محلونه چې آباد وو اوس پراته دي لاندې باندې
دا دنیا د زړه لګولو ځائے نه دے
ځائے د عِبرت دے، د زړه لګولو ځائے نه دے

## د دُنیا خواهش لرونکي

افسوس! اکثر خلق **نن** د دُنیا په فِکر کښې اخته دے او **آخِرت** ئې هیر کړے دے، په مونږ کښې بعضې داسې دي چې هغه د فاني دُنیا په خوندونو کښې خوشحاله ، د زوال او فنا کیدو نه بے پروا مزې کوي او مرګ ئې هډو په تَصَوُّر کښې هم نه راځي، او بعضې داسې دي چې د دي ختمیدونکي دُنیا د مال او سهولتونو په حاصلولو کښې داسې

مشغوله شوي دي چې هغوئي ناڅاپه مرګ او د قبر تِیارې، ویره او تنهائي هیره کړي ده. آه! نن زمونږه ټول طاقت صرف او صرف د دُنیاوي ژوند د بهتر جوړولو د پاره خرچ کیږي، د آخِرت د بهترۍ فکر ډیر کم ښکاري. لږ غور خو اوکړئ چې په دې دُنیا کښې څنګه څنګه مالدار خلق تیر شوي دي چې هغوئي د دولت او حکومت، د رعب او دبدبے، د بال بچو عارضي مَحبَّت، د دوستانو د عارضي صُحبَت او د نوکرانو د خوشامندو او خدمتونو په نشه کښې خپل قبرونه هیر کړي وو. خو آه! ناڅاپه د مرګ سیلۍ راغله او په دُنیا کښې د ډیر وخته پورې د اوسیدو د هغوئي اُمِّیدونه په خاورو کښې ګډ شو او مرګ د هغوئي د خوشحالو او بےغمۍ او خنداګانو کورونه شړ او برباد کړل، او هغوئي د رنړاګانو ځلیدونکو بنګلو او محلونو نه اوچت کړے شُو او د تِیارو نه ډکو قبرونو ته کوز کړے شُو.آه!هغه خلق د پرونۍ ورځې پورې د خپلو بال بچو سره په خوشحالو کښې وو او نن د ویرې نه ډکو قبرونو کښې یواځې غمګین او پریشانه پراته دي.

اَجَل نے نہ کِسریٰ ہی چھوڑا نہ دارا — اِسی سے سکندر سا فاتح بھی ہارا
ہر اِک لیکے کیا کیا نہ حسرت سِدھارا — پڑا رہ گیا سب یُونہی ٹھاٹھ سارا
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے — یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

**د اشعارو ترجمه:** (۱) د مرګ نه کِسرٰی، دارا او سِکندر یو هم خلاص نه شو (۲) هر یو په زړه کښې ډیر ارمانونه یوړل او ټوله بادشاهي ترینه پاتې شوه (۳) دا دُنیا د زړه لګولو ځائے نه دے، ځائے د عِبرت دے د تماشو ځائے نه دے.

## د دُنيا دوکه

افسوس دے په هغه کس، چې هغه د دُنيا دوکے [يعني ټګئ] ليدلي وي او د دې باوُجود ېخپله هم د دې په دوکه کښې اَخته وي او د مرګ نه بالکل غافِله وي. واقعي خوك چې د دُنياوي ژوند په دوکه کښې اَخته شي او خپل مرګ او قَبر او حَشر هير کړي او د اللّٰه تَعَالٰی د راضي کولو والا کارونه اُونکړي نو هغه د ډير زيات مذَمَّت قابِل دے. د دې [دُنيا] د دوکے نه د خبردارولو د پاره زمونږه **اللہ** پاک په سيپاره ۲۲ سُورةُ الْفَاطِر آيت نمبره ۵ کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ٚ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝۵ (پ۲۲، الفاطر: ۵)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : اے خلقو! بيشکه د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) وعده رِښتيني ده نو هيڅ کله دِ تاسو دوکه نه کړي د دُنيا ژوند او هيڅ کله دِ تاسو ته د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) د حکم په باره کښې دوکه در نه کړي هغه غټ ټګ (يعني شيطان).

اے عاشقانِ رسُول! او زما خوږو محترمو اسلامی وروڼړو! يقيناً خوك چې د مرګ او د هغې نه پس کيدونکو مُعامَلاتو نه په صحيح معنو کښې خبر وي هغه د دُنيا په رنګينو او د دې په سهولتونو نه شي دوکه کيدلے. آيا تاسو کله داسې خوك ليدلے دے چې هغه د مړي په قبر کښې د اينبودو د پاره فرنيچر تيار کړے وي، يا ئې په قبر کښې ائير کنډيشنر لګولے وي، يا ئې د قبر د پاره د روپو ګله جوړه کړي وي، يا ئې د قبر د پاره په لوبو کښې

د ګټلو کپونو او د دُنياوي کاميابو د سَنَدُونو اينبودلو د پاره المَارۍ جوړه کړې وي؟ داسې کس به تاسو بالکل نه وي ليدلے او داسې کول شرعاً جائِز هم نه دي، نو چې هر څه رانه دلته پاتې کيدونکي دي نو زمونږه په دې ډِګرو څه؟ د کوم مال و دولت د پاره چې مونږه ټول عُمر محنت او مشقت کوو هغه به زمونږه څه مدد اوکړي؟ په کوم مَنصَب چې مونږه فخر کوو هغه به په قبر کښې زمونږه څه پکار راشي؟ **خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اوس هم وخت دے، د غفلت نه رابيدار شۍ او د قبر او آخِرت تياري اوکړۍ.

## په دُنيا کښې د مُسافِر په شان اوسه

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه روايت دے چې **حُضُورِ اکرَم** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما وَګه اُونيوله او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "په دُنيا کښې داسې اوسه لکه ته چې مُسافِر ئې." حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا به فرمائيل: چې کله په تا ماښام راشي نو د راروان سحر انتِظار مه کوه او چې کله درباندې سحر شي نو د ماښام انتِظار مه کوه او د [روغ] صِحَّت په حالت کښې د بيمارۍ د پاره او په ژوند کښې د مرګ د پاره تيارې اوکړه. (صحيح بُخاری ج ٤ ص٢٢٣ حديث ٦٤١٦ ، دارُالْکُتُبِ الْعِلْمِية بيروت)

## دُنيا د آخِرت د تيارۍ د پاره مخصوص ده

**حضرتِ** سَيِّدُنا عُثمانِ غَنی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې د ټولو نه آخرۍ کومه خطبه ارشاد فرمائيلې وه، په هغې کښې دا هُم دي: اللّٰه تَعَالٰی تاسو ته دُنيا صرف د

دې د پاره عطا کړې ده چې تاسو د دې په ذريعه د آخِرت تياري اوکړئ او د دې د پاره ئې درته نه ده عطا کړې چې تاسو صِرف د دې شئ، بيشکه دُنيا فاني ده او آخِرت باقي دے. تاسو فاني (دُنيا) چرې دوکه نه کړي د باقي (آخِرت) نه مو غافله نه کړي، فنا کيدونکي دُنيا د باقي پاتې کيدونکي آخِرت نه مه غوره کوئ ځکه چې دُنيا ختميدونکي ده او بيشکه د الله پاک طرف ته ګرځيدل دي. د الله پاک نه اُويَريږئ ځکه چې د هغه ويره د هغه د عذاب [نه د بچ کيدو] د پاره ډال او هغه عَزَّوَجَلَّ ته د رسيدو ذريعه ده. (ذَمُّ الدُّنيا موسوعةُ اِبنِ ابِی الدُّنيا ج٥ ص ٨٣، رقم ١٤٦ المكتبة العصرية بيروت)

ہے یہ دنیا بے وفا آخِر فنا

نہ رہا اس میں گدا نہ بادشَہ

دا دنيا ده فاني او بے وفا نه به شي پاتې فقير او نه بادشاه

اے عاشقانِ رَسُول او زما **خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دې دُنيا مِثال د يوے لارې دے چې د دې په غوخولو مونږه خپل منزل ته رسيدے شو، او هغه منزل به يا جَنَّت وي يا دوزخ! د دې دار و مدار په دې خبره دے چې مونږه دا سفر څنګه تير کړو! د الله ورَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى الله عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په فرمانبردارئ کښې مو تير کړو او که په نافرمانئ کښې مو تير کړو؟ لِهٰذا که مونږه د جَنَّت اِنعامونه ګټل او د دوزخ د عذابونو نه بچ کيدل غواړو نو مونږ ته به **"د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول وي."**

اللہ کرے دل میں اُتر جائے میری بات

**ترجمه:** (اللّٰه دِ اوکړي چې زما خبره ستاسو زړونه ته کوزه شي)

## د مړي اعلان

**سرکارِ مدینه** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: په هغه ذات مې دِ قَسم وي د چا په قبضهٔ قُدرت کښې چې زما ساه ده، که خلق د هغه (یعني د مړي) ځائے اُووِیني او د هغه خبرې واوري نو مړے به هیر کړي او په خپل ځان به ژاړي. چې کله مړے په تخته کیښودے شي او اوچت کړے شي نو د هغه روح په بے قرارۍ په تخته کښیني او آواز کوي: "**اے زما د کور خلقو!** دُنیا دِ ستاسو سره داسي لوبې اُونکړي څنګه چې ئې زما سره لوبې اُوکړې، ما حلال او غیرِحلال مال جمع کړو او بیا مې هغه مال نورو ته پریښودو او ترینه لاړم. د هغې ګټه د هغوئي د پاره ده او د هغې نقصان زما د پاره [دے]، پس څه چې په ما تیر شوي دي د هغې نه اویریږئ." (یعني عِبرت حاصل کړئ). (اَلتَّذۡکِرَۃُ للقرطبی ص ۷۶ ، دارُالۡکُتُبِ الۡعِلۡمِیة بیروت)

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مَړي آواز

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے چې د **خَاتَمُ النَّبِیِّیۡن** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: چې کله جنازه تیاره شي او خلق ئې په خپلو اُوګو اوچتوي، که هغه ښه [یعني نیك] وي نو وائي ما زر بوسئ، که هغه بد [یعني ګنهکار] وي نو خپلو خپلوانو ته وائي: هائے! تاسو ما

چرته ورېږي! د انسان نه علاوه هر يو څيز د هغه آواز اوري، که انسان هغه واوري نو بے **هوښه** به شي. (صحیح بُخاری ج۱ ص٤٦٥ حدیث۱۳۸۰)

## د قبر آواز

د **حضرتِ** سَيّدُنا ابو الحَجَّاج ثُمالي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، چې **حُضُورِ اکرَم** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: چې کله مړے قبر ته کوز کړے شي نو قبر هغه ته وائي: اے اِنسانه برباد شې! تا زه ولې **هير** کړے ووم؟ آيا تا ته دومره پته هم نه وه چې زه د فِتنو [يعني فسادونو] کور يم، د تِيارو کور يم، بيا به ته په څه وجه په ما باندې غره، غره [يعني په تَڪَبُّر] ګرځيدلې؟ که هغه مړے نيك انسان وي نو يو **غيبي** آواز **قبر** ته وائي: اے قبره! که دا د هغه [خلقو] نه وي چا به چې د **نيکۍ** حُڪم ورکولو او د بَدۍ نه به ئې منع کوله نو بيا! (يعني بيا به ستا څه سلوك وي؟) قبر وائي: که دا خبره وي نو زه د ده د پاره **ګلزار** [يعني د ګلونو باغ] جوړيږم. چنانچه بيا د هغه انسان بدن په **نور** کښې بدل شي او د هغه رُوح د رَبُّ العٰلمِين عَزَّوَجَلَّ بارګاه طرف ته والوَځي. (مُسندابی یعلٰی ج٦ ص٦٧ حدیث٦٨٣٥ ، دارُالکُتُبِ العِلمِیة بیروت)

اے **عاشقانِ رَسُول** او زما **مُحترمو اسلامي وروڼړو!** غور خو اوکړئ هغه وخت چې په قبر کښې به يواځې ئې، ويريږئ به، نه به چرته تلے شئ، نه به چا ته غږ کولے شئ او د تښتيدو به هم هيڅ لار نه وي. هغه وخت چې د قبر په تيز آواز غږ کول مونږه واورو نو څه به راباندې تيريږي!

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار
مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بے شمار

یاد رکھ! میں ہوں اندھیری کوٹھڑی
مجھ میں سُن وَحشت تجھے ہو گی بڑی

میرے اندر تُو اکیلا آئیگا
ہاں مگر اعمال لیتا آئیگا

تیرا فن تیرا ہنر عُہدہ ترا
کام آئے گا نہ سرمایہ ترا

دولتِ دنیا کے پیچھے تُو نہ جا
آخرت میں مال کا ہے کام کیا

دل سے دنیا کی محبّت دُور کر
دل نبی کے عِشق سے معمور کر

لندن و پیرس کے سپنے چھوڑ دے
بس مدینے ہی سے رِشتہ جوڑ لے

**د اشعارو ترجمه:**

(۱) قبر هره ورځ دا آواز کوي چې په ما کښې بيشميره چينجي دي (۲) ياد ساته! زه د تيارو کور يم، او واوره! په ما کښې به ته ډير يَريږې (۳) ما ته به ته يواځې راځې، خو آو خپل اعمال به ځان سره راوړې (٤) ستا فن او هُنر او عُهده او مال به ستا په کار را نه شي (٥) د دُنيا په دولت پسې مه ځه، په آخِرت کښې د مال څه کار دے (٦) د زړه نه د دُنيا مَحَبَّت اُوباسه، زړه دِ د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق نه ډك كړه (۷) د لندن او پيرس خوبونه ليدل پريږده، بس صرف مدينه مدينه يادوه.

## د جَنَّت باغ يا د جَهَنَّم كنده

د نَبِئ مُكَرَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: "قبر يا خو د جَنَّت په باغونو کښې يو باغ دے يا د جَهَنَّم د کندو نه يوه کنده ده."

(سُنن ترمِذی ج٤، ص ٢٠٨، حديث ٢٤٦٨ دارُالفِكر بيروت)

گورِ نیکاں باغ ہو گی خُلد کا
مجرموں کی قَبر دوزخ کا گڑھا

**د شعر ترجَمه:** د نيکانو قبر به د جَنَّت باغ وي، د مجرمانو قبر به د دوزخ کنده وي.

## په فرمانبردار باندې د قبر رحمت

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د لـمونځونو پابندي کولو والؤ او په سُنّتو باندې د عمل کولو والؤ د پاره به په قبر کښې راحتونه وي او د بيلمانځو او د ګناهونو نه ډك غير شرعي فيشن کولو والؤ د پاره به [په قبر کښې] آفتونه او آفتونه وي، چنانچه حضرت عَلّامه جلالُ الدِّين سُيُوطِى شافِعِى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي، چې د حضرتِ سَيِّدُنا عُبيد بِن عُمير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: قبر مَړي ته وائي که ته په خپل ژوند کښې د الله پاک فرمانبرداره وې نو نن به زه په تا رَحم کووم او که ته په خپل ژوند کښې د اللّٰهتَعَالٰی نافرمانه وې نو زه ستا د پاره عذاب يم، زه هغه کور يم چې څوك نيك او اِطاعت ګزاره [وي او] په ما کښې را داخِل شي نو هغه به زما نه خوشحاله اوځي او څوك چې نافرمانه او ګنهګار وي، هغه به زما نه برباد شوے اوځي.

(شَرحُ الصُّدور ص ١١٤ ، اهوالُ القُبور لِابنِ رجب ص ٢٧ ، دارالغد الجديد مصر)

## د ګاوندېيانو مړو آواز

**منقول دي:** چې کله مړے په قبر کښې کيښودے شی او په هغه عذاب شروع شي نو **ګاونډيان مړي** ورته آواز کوي او وائي: اے د دُنيا نه راتلونکيه! آيا تا زمونږ د مرګ نه نصيحت نه وو حاصِل کړے؟ آيا تا نه وو ليدلي چې زمونږه اعمال څنګه ختم شو؟ او تا ته خو د عمل کولو مُهلت درکړے شوے وو، خو تا وخت ضائع کړو، د قبر يو يو ګوَټ هغه ته دا وائي: اے په زمکه باندې غره [يعني په تکبُّر] ګرځيدو والا! تا د

مړکيدو والؤ نه ولي عبرت حاصِل نه کړو؟ آيا تا نه وو ليدلي چې ستا مړه شوي خپلوان خلقو څنګه قبرونو ته رسولي وو.

(شَرحُ الصُّدور ص ١١٦، مرکز اهلسنت برکات رضا الهند)

## د مړو سره خبرې

په "شَرحُ الصُّدور" کښې دي، **حضرتِ** سَيِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: يو ځل مونږ د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِـي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ سره د مدينے مُنَوَّرے اِديرے [يعني مَقبرے] ته لاړو. حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په قبرونو والَوْ باندې سلام واچولو او اُوئې فرمائيل: اے قبرونو والَوْ! تاسو به خپل خبر بيان کړئ، که مونږ ئې درته بيان کړو؟ **حضرتِ** سَيِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي چې مونږه د قبر نه د "وَعَلَيۡکَ السَّلَامُ وَرَحۡمَةُ اللہِ وَبَرَکَاتُهٗ" آواز واوريدو او بيا يو [قبر والا] داسې اووئيل: "يا اَمِيرَ المُؤمِنِين! هم تاسو خبر راکړئ چې زمونږ د مرګ نه پس څه اوشو؟" حضرت عَلِي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ اوفرمائيل: "واورئ! ستاسو مالونه تقسيم شو، ستاسو بيبيانو نور نکاحونه اوکړل، ستاسو اولاد په يتيمانو کښې شامِل شو، کوم کورونه چې تاسو ډير مضبوط جوړ کړي وو په هغې کښې ستاسو دُښمنان آباد شو." اوس تاسو خپل حال بيان کړئ! دا ئې چې اووئيل نو د يو قبر نه آواز راغے: "**يا اَمِيرَ المُؤمِنِين!** زمونږه کفنونه وشليدل، ويښته مو اوختل او اوشيندل شو، زمونږه څرمنې ټوټے ټوټے شوې، سترګې مو په مخ بنکته اوبهيدلې او د پوزو نه مو نَو روان دے او مونږ چې څه ليږلي وو (يعني څنګه

عمل مو چې کړے وو) هغه را ورسيدو او څه مو چې وروستو پريښودل په هغې کښې مو نقصان اوشو." (شَرحُ الصُّدور ص ۲۰۹ ، اِبنِ عساکِر ج ۲۷ ص ۳۹۵)

## چرته دي هغه ښائسته مخونه؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د خُطبے په دوران کښې فرمائيل: چرته دي هغه د ښائسته مخونو والا؟ چرته دي هغه په خپله ځوانۍ باندې فخر کوونکي؟ چرته لاړل هغه بادشاهان چا چې عاليشان ښارونه جوړکړي وو او د هغو نه ئې مضبوطې قَلعے چاپيره کړې وې؟ څه شو د جنګ په ميدان کښې غالِب راتلونکي؟ بيشکه زمانې هغوئي ذليله کړل او اوس هغوئي د قبر په تيرو کښې پراته دي. زر کوئ! په نيکو کښې مخکښې شئ! او نجات [يعني خلاصې] اوغواړئ.

(شُعَبُ الايمان لِلْبَيْهَقِي ج ۷ ص ۳٦۵ حديث ۱۰۵۹۵)

## د اوس نه تيارې اوکړئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! **اَمِيرُ المُؤمِنين** حضرتِ سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مونږ ته د دُنيا د فاني کيدو، د دې د بے وفائۍ او د قبر د تِيارو احساس راکوي او د غفلت د خوب نه مو رابيداروي او د قبر او حشر د تيارۍ فِکر راکوي، واقعي عقلمند هغه دے څوك چې د مرګ نه مخکښې د خپل مرګ تيارې اوکړي او د نيکو ذخيره جمع کړي او د سُنَّتو مَدَنی شمع د ځان سره قبر ته يُوسي او دغسې د قبر د رنړا اِنتِظام اوکړي،

ګڼي قبر بالکل دا لحاظ نه کوي چې ما ته دننه څوك راغے؟ كه **مالدار** وي او كه فقير، كه وزير وي او كه د هغه مُشير، كه حاكِم وي او كه **محكوم**، كه افسر وي او كه چپړاسي، كه مالِك وي او كه نوكر، كه طَبِيب وي او كه مريض، كه ټيكدار وي او كه مزدور، كه د چا سره هم د آخِرت توښه كمه وي، كه **لمونځونه** ئې قصداً قضا كړي وي، كه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژے ئې بے عذرِ شرعي نه وي نيولي، كه د فرض كيدو باوُجود ئې زكوٰة نه وي ادا كړے، كه حج پرې فرض شوے وو خو نه ئې وو ادا كړې، كه د قدرت [يعني طاقت لرلو] باوُجود ئې [په خپلو زنانوٶ] شرعي پرده نه وه نافذ كړي، د مور و پلار نافرماني ئې كړي وه، كه د دروغو، غِيبَت او **چُغلۍ** عادت ئې لرلو،كه **فلمونه** او ډرامے ئې كتلې، كه سندرې او سازونه ئې اوريدل، كه ګيره ئې خرئيله يا ئې د يو موټې نه كموله، غرض دا چې په ګناهونو ئې هيڅ اَسره نه كوله، نو د **الله** پاک او د هغه د رسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضۍ په صورت كښې به د پښيمانۍ او پريشانۍ نه سِوا هيڅ هم په لاس ور نه شي. او **چا** چې د فرض عبادتونو سره سره د نفلونو پابندي هم كړي وه، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه علاوه ئې نفلي روژے ئې هم نيولي وې، كوڅه په كوڅه ئې د **نيكۍ دعوت** خور كړے وو، د قرآنِ پاك تعليم ئې نه صِرف پخپله حاصِل كړے وو بلكه نورو ته ئې هم وركړے وو، "چوك درس وركولو كښې ئې هيڅ شرم نه وي **محسوس** كړے"، "كور درس" ئې جاري كړے وو، د سُنَّتو د تربيَّت په **مَدَنى قافِله** كښې ئې هره مياشت

کم نه کم د درې ورځو د سفر کولو سره سره نورو مسلمانانو ته هم د دې ترغیب ورکړے وو، هره ورځ ئې د **مَدَنی اِنعاماتو** رساله ډکه کړې وې او د هرې مَدَنی میاشتې په یکم تاریخ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کړې وه، د **الله** پاک او د هغه د حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فضل و کرَم د ایمان د سلامتیا سره دُنیا نه رُخصت شوے وو نو اِنْ شَآءَاللہ د هغه په قبر کښې به د قیامته پورې رحمتونه او رحمتونه وې او د نُورِ مصطفٰي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رنړاګانې به وې.

قَبر میں لہرائیں گے تا حَشر چشمے نور کے
جلوہ فرما ہوگی جب طَلعَت رسولُ اللہ کی (حدائقِ بخشش)

تر قیامته به ئې قبر کښې رنړا وې          پکښې راوړې چې تشریف رسولُ الله

## سندرغاړے (ګلوکار) دعوتِ اسلامي ته څنګه راغلو؟

اے **عاشقانِ رسول**! بس هر وخت د دعوتِ اسلامي مَدَنی ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ اِنْ شَآءَاللہ په دواړو جهانو کښې به مو بیړۍ پوریوځي. راځئ چې ستاسو د ترغیب او [د نیکو] د حِرص زیاتَوَلو د پاره تاسو ته د اِیمان نه ډك یو **مَدَنی سپرلے** واوروم: چنانچه د مَلِیر (بابُ المَدینه کراچۍ) د یو اسلامی ورور (عمر تقریباً ۲۷ کاله) څه داسې بیان دے چې په ماشوم والي کښې زما د نعتونو وئیلو شوق وو، د کورونو په پروګرامونو [یعنې میلمستیاګانو وغیره] کښې به ما کله کله فرمائشي سندره هم وئیله، آواز مې ښه وو نو په دې وجه به خلقو ما ته شاباسے هم راکولو او زه به

ډېر خوشحاليدم. چې لږ غټ شوم نو د ګټار (د موسيقۍ يو څيز [لكه سيتار او رباب] د دې د) زده كولو شوق مې پيدا شو، بيا مې باقاعده د سندرو زده كولو په اكيډمۍ كښې داخِله واخسته، د ډېرو كلونو پورې د زده كولو نه پس مې د سندرو په مُقابلو كښې حِصّه اخستل شروع كړل، په ډېرو ټی وی چينلو باندې مې هم سندرې اووئيلې. د وخت تيريدو سره سره مشهور هم شومه. بيا ما ته د دوبۍ په يوه ډېره غټه شو (يعني پروګرام) كښې د شريك كيدو موقع حاصله شوه، د هغه ځائے نه هِند (بهارت) ته لاړم، هلته مې تقريباً د شپږو مياشو پورې د سندرو په مقابلو كښې حِصّه واخسته، په غټو غټو پروګرامونو او فلمونو كښې مې سندرې اووئيلې او ډېر مال او نوم مې اُوګټلو. بيا د ګلوكارانو د ټولي سره د دُنيا مُختلفو مُلكونو ته لاړم چې په هغې كښې [كنيډا (ټورنټو، وِينكور)، د امريكے لس رياستونه (شِكاګو، لاس اينجيلس، سان فرانسسكو وغيره)، انګلينډ (لندن)] [شامل دي]. چې كله د څه مودے د پاره وطن ته بيرته راغلم نو د كور كسانو او د مَحَلّے خلقو مې ډېره حوصله افزائي اوكړه، اګر چې په دې خبرو مې نفس ډېر خوشحاليدو خو زړه مې بے سكونه وو، څه كمي غوندې راته محسوسيدله، زړه مې روحانِيّت غوښتلو، د لمانځه د پاره چې جُمات ته لاړم راغلم نو هلته راته د ماسخُتن د لمانځه نه پس د **فيضانِ سُنَّت** په درس كښې د شركت كولو سعادت نصيب شو. درس مې خوښ شو په دې وجه به زه كله كله په هغې كښې كښيناستم خو په زړه او دماغو كښې مې بيا بيا د مُلك نه بَهر ته د تللو او د ډېرو ډېرو سندرو

وئيلو او د عِزّت او دولت ګټلو او شُهرت حاصلولو ګنده خواهش پروت وو، د درس نه پس به چې اسلامي ورونړو په ما **اِنفِرادی کوشش** شروع کولو نو ما به اخوا ديخوا اوکړل او د جُمات نه به اووتم، يوه شپه اُوده شوم نو په خوب کښې مې د دعوتِ اسلامي يو مُبَلِّغ اوليدو چې په اوچت ځائے ولاړ دے او ما خپلې خوا ته رابلي لکه ما ته چې د ګناهونو د لدل نه د راوتلو دعوت راکوي. سحر چې راپاځيدم نو د خپل موجوده ژوند په انداز مې لږ ساعت غور اوکړو خو د ګناهونو د حالت نه بهر نه شوم، څه موده پس مې يو بل خوب اُوليدو چې هغې زه اولړزولم! څه ګورم چې زه مړ شوے يم او خلق غُسل راکوي بيا ما خپل ځان په قبر کښې اُوليدو، هغه وخت ما خپل ځان داسې بے وسه [او بے اسره] محسوس کړو چې کله هم داسې نه ووم بے وسه شوے، بيا ما خپل ځان ته اووئيل: "تا ځان ډير مشهوروول غوښتل، اوس دِ ځان اوپيژندو!" چې سحر مې سترګې اوغړيدې نو خولې خولې ووم او بدن مې رپيدو او داسې را ته معلوميده لکه ما ته چې يوه موقع بله راکړے شوه او بيا دُنيا ته را اُوليږلے شوم. بس زما د زړه نه د سندرو او سازونو شوق بالکل ختم شو، ما د ګناهونو نه په رِښتيني توبه اوکړه او پخه اراده مې اوکړه چې بيا به په هيڅ صورت کښې سندرې نه وايم. چې کله د کور کسان خبر شو نو هغوئي سخت اِحتِجاج اوکړو خو د اللّٰهو رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کرم زما مَدَنی ذِهن جوړ شوے وو لِهٰذا زه په خپله فيصله باندې قائِم پاتې شوم. ما په خوب کښې بيا هغه مُبَلِّغ

دعوتِ اسلامي اُوليدو، هغوئي ما ته حوصله راکړه. د **الله** پاک د دې ارشاد مُبارَك:

**وَ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ۟**

(پاره۲۱. العنكبوت ٦٩)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالإيمان :او چا چې زمونږه په لار كښې كوشش اوكړو ضرور به مونږه هغوئي ته خپلې لارې اُوښايو او بيشكه اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) د نيكانو سره دے.

مطابق ما ته په **دعوتِ اسلامي** كښې اِستِقامَت نصيب كيدو نصيب كيدو، د لمونځونو پابندي مې شروع كړه، ږيره مې پريښوده او **شنه شنه عمامه** [يعني پټكے] مې په سر كړو، مخكښې مې د سندرو شعرونه وئيل او اوس د مكتبةُالمَدينه نه شائع شوي كتابونه او رسالے كتل زما عادت جوړ شوے دے، يوه شپه د يو كتاب په لوستلو لوستلو كښې چې كله اوده شوم نو قِسمَت مې راويښ شو او په خوب كښې راته د خپل خوږ خوږ آقا مكّي مَدَني مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو او په دې چې زه د خپل ربّ تعالىٰ خومره شُكر هم اداكړم نو كم دے. په دې زما حوصله نوره هم زياته شوه. بيا چې كله د مُفتئ دعوتِ اسلامي حضرتِ عَلّامه حافِظ مُفتي محمّد فاروق عطّاري مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قَبرِمُبارَك د مُسلسل بارانونو په وجه مُتاثِره شو او وسپړدلے شو نو د هغوئي د صحيح سلامت بدن، تازه كفن، شنې شنې عمامے او د زُلفو نظارے مې چې اُوكړې نو ډير خوشحاله شوم چې د **دعوتِ اسلامي** سره تَعَلُّق لرونكو باندې د اللّٰه و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خنګه احسان او کرم دے. د مَدَنی کارونو په کولو کولو کښې د پرون سندر غاړے **جُنيد شيخ** د مَدَنی ماحول په بَرَکت نن مُبَلِّغ او نعت خوان جوړ شوے دے،

اَلْحَمْدُلِلّٰه د دې ليك د وخته پورې ما ته د **دعوتِ اسلامي** د ذيلي مُشاوَرت د خادِم (يعني نګران) په حيثِيَّت په جُمات او بازار کښې د **فيضانِ سُنَّت** درس ورکولو، د **صدائے مدينه** لګولو يعني د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو، د **نيکۍ د دعوت** د علاقائی دورے کولو سعادت حاصِل دے. **اللّٰه** پاک دِ ما ته د مرګ د ساعته پورې په مَدَنی ماحول کښې اِستِقامَت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ۹۹ اَسماءُ الحُسنٰی په خوب کښې ترغيب

اے **عاشِقانِ رسُول**! او زما **خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو**! د دُنيا مشهور پخواني سندر غاړي **جُنيد شيخ** د دې ”مَدَنی سپرلي“ د ليك ورکولو نه يو څو ورځې پس سَګِ مدينه [يعني محمّد الياس عطّار قادري] عُفِيَ عَنْهُ ته وئيلي وو چې اَلْحَمْدُلِلّٰه اوس ما ته يو ځل بيا د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، چې په هغې کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د اَسماءُ الْحُسنٰی يادَوَلو اِشاره راکړے شوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه ما ياد کړلو. **خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** سُبْحٰنَ اللّٰه هسې خو په حديثِ پاك کښې د ۹۹ اَسماءُالحُسنٰی يادَوَلو فضيلت موجود دے خو دا د دوئي د خوش قِسمتۍ معراج دے چې خوږ آقا صَلَّى اللّٰه

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او خپل عاشق ته ئې خاص طور د دې ترغيب ارشاد کړو. د ۹۹ اَسماءُالحُسنٰی فضيلت واورئ او خوشحاله شئ چنانچه د حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: ”د اللّٰه پاک يو کم سل نومونه دي څوك چې دا ياد کړي هغه به جَنَّت ته داخِل شي.“ (صحيح بُخاری ج۲ ص ۲۲۹ حديث ۲۷۳۶) (د تفصيلي معلوماتو د پاره ”نُزهةُ القاری شرح صحيح البُخاری“صفحه ۸۹۵ نه ۸۹۸ پورې اوګورئ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د بيان په آخِره کښې د سُنَّت فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: چا چې زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو، هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو، او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو، هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي. (مِشْکاةُ الْمَصابِيح، ج ۱ ص ۵۵ حديث ۱۷۵ دارُالْکُتُبِ الْعِلْمِيه بيروت)

سنّتيں عام کريں، دين کا ہم کام کريں
نيک ہو جائيں مسلمان، مدينے والے

**د شعر ترجَمه:** يا اللّٰه پاکه مونږ ته توفيق راکړې چې سُنّتونه عام کړو، او د دِين کارونه اوکړو، يا اللّٰه پاکه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطِر مسلمانان نيك کړې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د لِباس څوارلس مَدَنی ګلونه

اوّل درې فرامينِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: (۱) د پيري د سترګو او د خلقو د سِتر په مينځ کښې پرده دا ده چې کله څوک جامې اوباسي نو [مخکښې دِا] بِسۡمِ الله لوَلي. (المُعجَمُ الاَوسط ج۱۰ ص۱۷۳ حديث۱۰۳۶۲) مفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتی احمد يارخان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: څنګه چې ديوالونه او پردے د خلقو د نظر نه پناهې جوړيږي دغسې به دا د الله پاک ذِکر د پيريانو د سترګو نه پرده جوړيږي او شيطان به هغه (يعني شرمګاه) نه شي ليدلے. (مِراۃ المَناجيح ج۱ ص۲۶۸) (۲) څوک چې جامے واغوندي او دا اولولي: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ کَسَانِیۡ هٰذَا وَرَزَقَنِیۡهِ مِنۡ غَیۡرِ حَوۡلٍ مِّنِّیۡ وَلَا قُوَّةٍ نو د هغه مخکښې وروسته ګناهونه به مُعاف شي. (سُنَن اَبی داوٗد ج٤ ص٥٩ حديث ٤٠٢٣) (د دُعا ترجمه: ټول تعريفونه الله عَزَّوَجَلَّ لره دي چا چې ما ته دا جامے واغوستلې او زما د طاقت او قوت نه بغير ئې ما ته عطا کړې) (۳) څوک چې د قدرت [يعني د وَس لرلو] باوُجود ښې [يعني ښائسته او قيمتي] جامې اغوستل د تواضُع (يعني د عاجزئ) په طور پريږدي، اللّٰه تعالٰی به هغه ته د کرامت حُلّه ور واغوندي. (سُنَن اَبُوداوٗد ج٤ ص ٣٢٦ حديث ٤٧٧٨)

تری سادگی پہ لاکھوں تری عاجزی پہ لاکھوں
ہوں سلام عاجزانہ مدنی مدینے والے

د شعر ترجَمه: یا رسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو په سادګۍ او ستاسو په عاجِزۍ ډیر ډیر عاجِزانه سلام.

(٤) د حُضُورِ آکرم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارَک لباس به اکثر د سپین رَخت [یعني د سپیني کپړے] وو. (کَشۡفُ الۡاِلۡتِباس فِي اِسۡتِحۡبَابِ اللِّبَاس لِلشَّیخ عبدُالحق الدِّهلَوی ص٣٦) (٥) لباس د حلالي ګټي کیدل پکار دي او کوم لباس چي د حرامي ګټي نه حاصل شوے وي، په هغې کښي فرض و نفل یو لـمونځ هم نه قبلیږي. (ایضًا ص٤١) (٦) منقول دي: چا چي په ناسته باندي عمامه اُوتړله یا ئي په ولاړه باندي پاجامه یا پرتوګ واغوستلو نو الله پاک به هغه په داسي مرض کښي اخته کړي چي د هغې علاج نشته. (ایضًا ص٣٩)(٧) د اغوستلو په وخت کښي د ښي طرف نه شروع کوئ (ځکه چي دا سُنَّت دي) مثلاًچه کُرته [یا قمیص] اغوندئ نو مخکښي په ښي لِستوڼي کښي ښي لاس داخل کړئ بیا ګڅ لاس په ګڅ لِستوڼي کښي. (ایضًا ص٤٣) (٨) هم دغسي پرتوګ اغوستلو کښي مخکښي په ښۍ پینڅه کښي ښۍ ښپه داخله کړئ او چي کله (قمیص یا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (یعني برخِلاف) کوئ، یعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ (٩) د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اداره مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب ”بهارِشریعت“ جِلد 3 صفحه 409 کښي دي: سُنَّت دا دي چي د لمَن اوګږدوالے د پَنډَۍ د نیمي پورې وي او د لِستوڼي اوګږدوالے زیات نه زیات د ګوتو د څوکو پورې او پلن والے ئي یو لویشت وي. (ردُّالمُحتار ج٩ ص٥٧٩) (١٠) سُنَّت دا دي چي د نارینه تهبند [یعني لنګ، پرتوګ] یا پاجامه [وغیره] د ګیټو [یعني پړکو] نه پاس وي. (مِرأة ج٦ ص٩٤)

(١١) نارينه دِ د نارينؤ او ښځې دِ د ښځو جامې اغوندي، د ورو ماشومانو د پاره هم د دې خبرې لحاظ ساتئ (١٢) د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د 1250 صفحو په كتاب "بهارِشريعت" جِلد اَوّل صفحه 481 كښې دي: د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه د زنګونانو د لاندې پورې "عورت" [يعني فرض پرده] ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې كښې شامِل نه دے او زنګونان پكښې شامِل دي. (دُرِّمُختار،ردُّالمُحتار ج٢ص٩٣) په دې زمانه كښې ډير خلق داسې دي چې تهبند يا پرتوګ داسې اغوندي چې د نامه نه لاندې څه حصه ئې ښكاري، كه په كُرته [يعني قميص] وغيره كښې داسې پټ وي چې د پوستكي (يعني څرمنې) رنګ پكښې نه ځليږي نو خير دے، ګني حرام دي او كه په لمانځه كښې [يو داسې اندام چې د هغې پټول فرض دي د] څلورمې حِصّے په قدر ښكاره وو نو لمونځ نه كيږي (بهارِشريعت) (١٣) نن صبا بعضې خلقو جانګے (نيم پتلون) اغوستے وي او د خلقو په مخكښې ګرځي او په هغې كښې د هغوئي زنګونان او ورنونه ښكاري دا حرام دي، د داسې خلقو ښكاره زنګونانو او ورنونو ته كتل هم حرام دي. بِالخصوص د لوبو په ميدان كښې، د ورزش كولو په ځايونو [يعني كلبونو وغيره] كښې او د سمندر [درياب او نهرونو] په غاړو داسې نظارے زياتې وي. لِهٰذا داسې مقاماتو ته په تللو كښې د سخت احتياط ضرورت دے (١٤) د تكبُّر [يعني د فخر] په طور چې كوم لباس وي هغه ممنوع [يعني منع] دے. تكبُّر شته او كه نه، د دې معلومات دِ داسې اوكړي چې د دې كپړو [يعني جامو] اغوستلو نه مخكښې چې د ده كوم حالت وو، كه د اغوستلو نه پس

هم د ده هم هغه حالت وي نو معلومه شوه چې په دې جامو کښې **تکبُّر** نه دے پیدا شوے. خو که هغه حالت ئې اوس نه وي پاتې، نو بیا **تکبُّر** پیدا شوے دے. لِهٰذا! د داسې جامو نه دِ ځان بچ ساتي ځکه چې **تَکبُّر** ډیر خراب عیب دے. (بهارِشریعت ج۳ص۴۰۹، ردُّالمُحتار ج۹ ص ۵۷۹ دارُالمَعرفة بیروت)

## مَدَني حُلیه

**کِیره،** زُلفې، عِمامه یعني پټکے، سپینه کُرته د سُنَّت مطابق د پَنډئ د نیمي پورې اوکړِده، لِستونړي یوه لویشت اوکړِده، په سینه باندې د زړه طرف ته جیب کښې ښکاره مِسواک، پاجامه یا پرتوګ د ګِیټو [یعني پړکو] نه بره. [دامَدَني حُلیه یعني د اوسیدو مَدَني انداز دے او] سپین څادر او په پرده کښې د پرده کولو د پاره په **مَدَني انعاماتو** د عمل په صورت کښې د نسواري رنګ څادر هم که ورسره وي نو مدینه مدینه)

**دُعائے عطّار:** یا **الله** پاکه! ما ته او په مَدَني حُلیه کښې اوسیدونکو ټولو اسلامي ورونړو ته د شین شین ګُنبد په سوري کښې شهادت، په **جَنَّتُ الْبَقِیع** کښې مَدفَن [یعني خښیدل] او په جَنَّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصیب کړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زلف و رِیش میں　　لگ رہا ہے مدنی حُلیے میں وہ کتنا شاندار

د حُضور عاشِق په زُلفو، کِیره او عِمامه کښې　　خومره ښکلے ښکاري د هغه دا مَدَني انداز

د سُنَّتو زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُالْمَدِینه دوه چاپ شوي کتابونه: (1) د 312 صفحو کتاب ”بہارِشریعت“حصّه 16او (2) د 120 صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“هدیه کړئ او اُولولئ. د سُنَّتو د تربِیَّت یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره د سنّتو نه ډک سفر هم دے.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو　　لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو

ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ بنکلې سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ

اُوګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ

حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ

شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په ورومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ






www.dawateislami.net

مکتبۃ المدینہ
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي مندئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net